درویش وردک

۰۳ نومبر ۲۰۱۶

## نه څلویښتم مجلس(په ښبنه کی)

### لومړی برخه

دجمعی په ورځ د ۵۴۵هجری قمری کال دشعبان په یوولسمه شیخ عبدالقادرګیلانی(رضی الله تعالی عنه) په مدرسه کی داسی وفرمایل: «له عبدالله بن مبارک(رحمة الله علیه) څخه روایت کوی، چی یوه ورځ سوالګردده خواته راغی اودکوم څیز غوښتنه یی وکړه، ولی ده پرته له لسودانو هګیوڅخه بل څه نه درلودل، خپلی وینځی ته یی امروکړچی هغوی ورکړه، ولی وینځی نه دانی هګی سوالګرته ورکړی اویوه دانه یی دخپل ځان لپاره وساتله، دلمرلویدو په محال یوکس دعبدالله مبارک دروازی ته راغی اوویی ویل چی داتوکری لخه ما واخلی، عبدالله ټوکری واخیسته اوکه ګوری چی پکی هګی دی، ویی شمیرلی چی نوی(۹۰) دانی وی،کنیزی ته یی وویل: هغه بله هګی دخه کړه؟ اوڅودانی دی سوالګرته ورکړی؟ ځواب یی ورکړچی نه دانی اویوه می دخپل روژه ماتی لپاره وساتله، عبدالله مبارک دخدای رحمت دی وی پری،وویل لس هګی دی زه تاوانی کړم».

دبنده معامله له خدای سره داسی ده. هغه بنده چی پرکتاب اوسنتومومن دی، داسی مومن چی په ټولوکړواووړوکی اوپه هرډول بذل اوبخشش کی له قرآن څخه یوه ذره انحراف نکوی. دوی دخپل خدای سره معامله کوی، اوپه دنیا اوعقبی کی دګټی اومفاد خاوندان کیږی. ګوری چی دخدای درګاه دبندګانوپرووړاندی پرانیستی ده، نوورننوزی، اودبنده ګانودروازی په خپل مخ کی تړلی وینی، اوله هغی څخه لیری والی کوی. که له خلکوسره موافقت لری نویوازی دخدای درضا لپاره وی،نه ددوی درضایت دجلبولو لپاره. په هرچاچی خدای ګران و نودی به هم په نوروګران وی، اوهرڅوک چی له خدایه لیری وی نوهغه مبغوض ګرزوی. یوه له بزرګانوڅخه ویلی:« دخلکو رضا دخالق درضا لپاره لټوه، نه دخالق رضا دخلکو درضالپاره، هغه چی باید ونازوی، ویی نازوه اوهغه چی باید مات کړی، دخدای داوامرودترسره کولوپه لاره کی مات کړه». قوم تل په الهی لاره روان دی، خدای پاک دوی دخپلونفسونو اودنورو په وړاندی یاری کوی، دلائمینو دلومه اوبدګویانو له طعنو څخه کوم باک نلری، اودشرعی دحکم دپلی کولولپاره دهیڅا څخه ویره نلری.

(ای دخدای بنده) دنفس هواله ځانه لیری کړه، اودراستانودقوم څخه پیروی وکړه،که کړواووینا کی. په دروغوسره ددوی دمقام د وصول ادعامکوه، پربلاوو صبرولره، ځکه دخدای آزمیښتونه راځی اوصابرین اوناشکیبایان سره بیلوی.هرڅوک چی صابرنه وواجرنلری، هرکله که دصبرله لاسه ورکړه؟ دحق دبنده کی څخه دی دوتلو وسیله برابره

کړی، متعال خدای دنبی اکرم (صلی الله علیه وسلم) پوسیله داسی ابلاغ فرمایلی دی: (مَنْ لَمْ یَرضَ بِقَضآئِی وَلَمْ یَصْبِرْ عَلی بَلائِی فَلْیَتَّخِذْ اِلهاً سَوایَ)- « هرڅوک چی زما په قضاراضی نه وی،اوپربلاوو می صبرونکړی، پس پرته له ماځخه دی دبل خدای په لټه کی اوسی». پس دخدای لورته راوګرزه اوپوه شه هرڅه چی مقدردی هغه به واقع شی.په تحقیق سره اسلام ته غاړه کښیږده ترڅو ایمان ته ورسیږی، ایمان دی بشپړ کړه ترڅو یقین ته ورسیږی، هغه وخت به داسی شیان وګوری چی هیڅکله دی هم نه وی لیدلی، داشیاو حقیقت به درته داسی څرګندشی لکه چی دوی دی. اوریدنی به دی په دیدن بدلی کړی، زړه به دی دحق په درګاه کی هستوګن شی، اوله حیرانیوڅخه به دی لیری کړی. کله چی زړه دخلکوله درګاه خبرشو، دکرامت لاسونه به درته ورسیږی اوهغه به کریم اوبزرګوارکړی، او په ده به خلک ګران شی، ولی هغه څه چی ددوی په لاسونو کی دی ورته پاملرنه نکوی. روغ زړه هغه دی چی دخدای درضا په لاره کی اصلاح شوی وی، اوروغ باطن هم هغه دی چی له تیاروڅخه په ټولیزه سره پاک شوی وی. دخدای مردان ولی داسی ونه اوسی چی اکرم الاکرمین پری عنایت کړی دی.

(ای قومه) پرتاسو لازمه ده چی دحق عزّوجلّ په اطاعت کی ایثاروکړی. پوه شی هرنعمت چی دمعصیت سره ترلاسه شی دزوال سره مخ کیدونکی دی. درست اکتساب هغه چی دخدای دطاعت سره اودشرعی داحکاموسره ترسره شی، چی ددی اکتساب ترڅنګ دقرب مقام ته هم رسیږی، اوهغه وخت به دی خوراک اوڅښاک دالهی فضل سره مطابق وی، اودابه له هغه ځایه درته ورسیږی چی هیڅکله مویې تصورهم نه وی کړی.

دنفس هوا حق ته دوصول پرده ده، هرکله که دنفس ځواک زایل شو، نوداپرده هم څیری کیږی، ددی اصل پربنسټ بایزید بسطامی( دخدای رحمت دی وی پرده) ویلی: خدای پاک می په خوب کی ولید، ورته ومی ویل: ای خدایه هغه لاره چی ستاپه خوا پای ته رسی کومه ده؟ ویی فرمایل: نفس دی پریږده، اودنفس له پوستکی داسی راووزه لکه مارچی له هغی وزی.« متعال خدای نفس وینی اودهغی دمتابعت په ترک کولو یی امرفرمایلی، ځکه دنیا اودهغی لذایذ دنفس پیروان دی، متعال خدای فرمایی: (وَفِیها ما تَشْتَهِی الْاَنْفُسُ وَتَلَذُّ الْاَعیُنُ)-« هغه څه چی نفس یی هیله کوی، لکه دنیا اونورلذایذ یی په جنت کی شتون لری. سوره زخرف آیه ۷۱».

حضرت شیخ رضی الله عنه وروسته له دی وینا بیا وفرمایل: بزرګان دورځی دخلکودمصالحو اوداهل اوعیال دژوندانه دوسایلو په ترلاسه کولواودشپی لخوادخدای عزّ وجلّ په خدمت کی دی، په خلوت کی له ده سره، همداسی لکه چی پادشاهان دورځی دنوکرانو اوچاکرانو اواطرافیانوسره اودشپی لخوا دخواصو سره په معاشرت کی وی. هغه څه چی تاسو ته وایم دزړه په غوږو یی واوری، خدای دی پرتاسو رحم وکړی،ګفتارباد ساتی اوعمل پری وکړی، ځکه زه پرته دحق له لوری اودحق وینا پرته بل څه په ژبه نه راوړم، څه نه وایم ، مګردحق په طریقه، پس په دی لاره ایمان ولری.

زما رضایت له تاسو څخه،ستاسو لخوازما په ستایلو اوتحسین پوری تړاونلری، بلکه باید دزړه په ژبه زما خبری تصدیق اوتحسین کړی، اوهغه پکاروا‌چوی اوپه خپلو اعمالو کی له ځانه اخلاص وکړی، هرکله که می داله تاسوولید، تاسو ته به ووایم احسنت.

ترڅوپه نفس اودنیا اوخلکو پوری تړلی یی، پوه شه چی خلک دنفس حجاب اونفس دزړه حجاب دی، اوزړه دباطن حجاب، ترڅوله خلکو سره یی خپل نفس نه وینی، هرکله که له خلکوبیل شوی اونفس دی ولید چی هغه ستااوستا دخدای دبښمن دی، پس دهغی سره په جګړه لاس پوری کړه ترڅو مطمئنه درجی ته ورسیږی، اودخدای په وعدو خوښ شی، اودهغی له عذابه وبریږی، دخدای اوامرو ته غاړه کښیږدی اودهغی له منهیاتولیری شی، اودهغی له

مقدارتواوغوښتنوسره موافق اوسی، پدی حال کی پردی څیریږی اودنه لیدونکوپه لیدوبریالی کیږی، اوپرته له خدای عزّوجلّ څخه بل ته التجاء نکوی.
عارف پرته له خدایه په بل څه زړه نه تړی، نه خوب لری نه آرام، تل دخدای په یادوی، اوپرته له ده بل دوست نلری، هغه دشناخت په وادی کی دی، دخودآګاهی دعلم امواج هغه کله پورته وړی اوکله کښته، له ځانه غیب دی اودشناخت په فضاکی مبهوت، ړوند دی اوکوڼ، غیرله خدایه له بله نه اوری، دحق دقدرت په لاسوکی لکه دمړی پشان دی،اوهرکله که یی دوتوموکه ولیده په درګاه کی مقیم دی، دخالق اوخلق ترمنځ واسطه دی، داسی دی دعارف حال په ظاهر اوباطن کی، اونورمقامات هم لری چی پوښلی دی.
(ای قومه) تاسو څه یاست؟ په هوا اوهوس کی ډوب، روزګارتباه کوی. دخدای پروړاندی صبر ولری، ترڅو ددنیا اودین له خیره څخه بهره مند شی. که داسلام دحقیقت غوښتونکی یاست، اوکه دحق دقرب غوښتونکی یاست، نوباید دهغی دغوښتنو اومقدراتوپروړاندی پرته له چون وچرا راضی اوسی، بدینوسیله دی چی دقرب مقام ته رسیدای شی. پرته له هغه چی خدای یی غواړی، تاسو دکوم څه اراده مه کوی، عزّوجلّ خدای فرمایی: (وَمَاتَشَاءوُنَ اِلَّا اَنْ يَشَاءَ اللّٰهُ)-« څه نه غواړی پرته له هغه نه چی خدای غوښتی وی. سوره انسان آیه ۳۰».
که دهغه څه چی غوښتی، ترسره نشول، دخدای دفعل اوارادی سره منازعه مکوه. که یی شته ، روغتیا اوزوی درڅخه واخیست ، له تقدیره سره یی موسکا وکړه. که دصفا اوقرب غوښتونکی یی، نوباید همداسی اوسی. که غواړی چی زړه دی دخدای قرب ته ورسیږی، اوپخپله په دی دنیا کی نه اوسی، خپله اندوه(غم) پټ ساته، څیره دنورو ته خوشحاله اوخندانه ښییه. خدای خلک دنیک خوی اوخصلت سره پیداکړی. رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم)فرمایلی: (بِشْرُ الْمُؤْمِنِ فِی وَجْهِهِ وَحُزْنُهُ فِی قَلْبِهِ)- «دمومن خوشحالی په څیره اوغم اواندوه یی په زړه کی ده».
هرڅوک چی دنورودستاینی اومدحی غوښتونکی شو، دهغوی له بدګویی اوذم څخه به هم ویریږی. ولی پوه شه چی دحق لاره یوازی په صدق اوراستی ولاړه ده. دراستانودقوم قول اوعمل پرته له کذبه، صدق دی. په اعمالو کی یی صدق اوراستی له وینا څخه ډیره ښکاریږی. دوی دحق نائبان دی، اودده خلفاء دځمکی پرمخ. دځمکی پرمخ پوه صرافان اودځمکی پاسبانان اودخدای پاک خاصان دی. ته ای منافقه، له دوی سره څه نسبت لری؟ له دی نفاق سره دوی ته زحمت مه ورکوه، دقیل اوقال اوتمنی سره به کوم کارترسره نکړای شی.
**لویه خدایه، مونږ دصادقینوله ډلی وګرزوی.**
**و«آتنافی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار» آمین.**
(دلومړی برخی پای)